ورځپاڼه
هیواد
د تاسیس کال ۱۳۲۸ لمریز
یکشنبه د لړم ۱۸مه ۱۳۹۹ ل کال ● د ربیع الاول ۲۲مه ۱۴۴۲ ق ● د نومبر ۸مه ۲۰۲۰ کال ● خصوصي ګڼه ۱۷۷ ● پرله پسې ۴۹۶۳مه ګڼه

## ولسمشر غني د افغانستان بانک د کار کوونکو پر موټر ترهګریز برید غندلی او په اړه یې د پلټونو امر کړی

ارګ، کابل: تروریستانو د خپلو جنایتونو په دوام، پرون سهار په کابل کې د افغانستان بانک د کارکوونکو پر موټر د مقناطیسي ماین چاودنه وکړه، چې په کې د افغانستان بانک رییس اوسني دستیار او پخواني وتلی ژورنالېست یما سیاوش، د افغانستان بانک د ریاست دفتر مرستیال احمدالله انس او د دوی موټر چلوونکی محمد امین په شهادت ورسېدل.جمهور رییس غني دغه تروریستي برید سخت وغانده، اړوندو ارګانونو ته یې لارښوونه وکړه ،چې هر اړخیزه څېړنه یې وکړي، عاملین یې پیدا او په سزا ورسوي.د افغانستان د اسلامي جمهوریت جمهوررییس د یما سیاوش او نورو شهیدانو کورنیو ته د خپل تسلیت او ژورې غمشریکۍ مراتب وړاندې کوي او ټپیانو ته د خدای تعالی په دربار کې د عاجلې روغتیا دعا کوي.

## د جمهوررییس غني په مشرۍ غونډې د نړیوال بانک پر تشویقي بستو بحث وکړ



Ketabton.com

۶مخ

امرالله صالح:

## پر پاکستاني ویزو د ورځې یو لک ډالر بډې اخیستل کېږي



د ولسمشر لومړي مرستیال امرالله صالح ویلي،

نومونه نه دي په ډاګه کړي، خو یو ځل بیا یې له

ملي دفاع وزارت:

## د هلمند لپاره د طالبانو استخباراتي مسوول وژل شوی

ملي دفاع وزارت وايي: په هلمند کېددې ولایت لپاره د طالبانو د استخباراتو مسوول په هوايي برید کې وژل شوی او ددې ولایت لپاره نومول شوي والي ټپي شوی دی.یاد وزارت پرون د خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي، چې پر طالبانو دغه برید هغه مهال شوی، چې دوی د هلمند په نادعلي ولسوالۍ کې راټول شوي و او پر افغان ځواکونو یې د برید تابیا نیوله.په

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیواد
یکشنبه د لړم ۱۸ مه ۱۳۹۹ ل کال ● دربیع الاول ۲۲ مه ۱٤٤۲ ق ● د نومبر ۸ مه ۲۰۲۰ کال ● خصوصي گڼه ۱۷۷ ● پرله پسې ۴۹۶۳ مه گڼه



## سرلیکنه

# د پاکستان تش په نامه مفتیان څه وایي؟

د پاکستان د حقانیه مدرسې د مؤسس مولانا سمیع الحق زوی او د دې مدرسې اوسنی مشر وایي، په افغانستان کې جهاد روا دی او طالبان پر حقه دي، خو د افغانستان حکومت ورسره دښمنۍ ته لمن وهي. د دې مدرسې اوسني مشر مولانا حامد الحق په تازه څرگندونو کې وېلي چې گنې طالبان پر حقه دي او د افغانستان له حکومته یې غوښتنه کړې چې دغې ډلې ته تسلیم شي؟؟؟ د نوموړي په دغو څرگندونو، په افغانستان کې سخت حساسیتونه را پارولي دي، د ده دا څرگندونې آن د اسلامي کنفرانس د مشرتابه او نورو نړیوالو دیني عالمانو پر خلاف دي، دغه تش په نامه سړی په داسې حال کې د افغانانو د وژنو لپاره د طالبانو جگړه روا بولي، چې په ځلونو دا جگړه حرامه بلل شوې ده، نه یوازې یوځل،بلکې په ځلونو دا جگړه د اسلام خلاف بلل شوې ده، خو د دغه پاکستاني استخباراتي شخص له څنډ پرته رد شوې د افغانستان د حج او اوقافو وزارت او گڼ شمېر افغانانو سختې نیوکې پرې کړې دي.د حج او اوقافو وزارت د یوې اعلامیې په خپرولو سره مولانا حامد الحق یو کمزوری شاگرد بللی او وېلي یې چې نوموړي د افغانستان په اړه دغه خبرې د حکومتونو په استازیتوب او لمسون کړې دي : (( د ارشاد، حج او اوقافو وزارت د دې کمزوري شخص ماشومانه خبرې په کلکه غندي او دا د ځینو استخباراتي کړیو په لارښوونه د افغانستان په چارو کې لاسوهنه بولي. )) د حج او اوقافو وزارت وایي، د پاکستان استخباراتي ادارې د هغه هېواد د مدرسو په واسطه په افغانستان کې مړ اور ته پوکی ورکړی او تل یې جنگ ته لمن وهلې ده. په اعلامیه کې دغه راز راغلي، ټولې تروریستي او ترهگریزې ډلې په همدې دیني مدرسو کې پټنځایونه لري او ترهگر روزي. یاد وزارت وایي، افغانانو ته ښکاره شوې چې ټولې ترهگرې ډلې په پاکستان کې فعالیت کوي او هېڅکله به د هغوی په دا ټول خبرو ونه غولېږي. اعلامیه کاږي: ((د ارشاد، حج او اوقافو وزارت د پاکستان د اسلامي نظریاتي کُنسل نه رسماً غواړي، چې د دې شخص د ماشومانه څرگندونو په اړه خپل رسمي دریځ واضح کړي، چې آیا دا د دوی په استازیتوب خبرې کوي؟ ))دا تش په نامه مفتي په داسې حال کې دا څرگندونې کوي، چې څو ورځې وړاندې لومړی د بنگله دېش دیني عالمانو او بیا وروسته د مالیزیا دیني عالمانو په افغانستان کې روانه جگړه حرامه بللې ده. سربېره پر دې د ختیځ زون دیني عالمان وایي چې د جگړې ښکېل لوري دې نوره جگړه بس کړي.هغوی هم په افغانستان کې روانه جگړه ناسمه بللې او یاد شاوخوا زر دیني عالمان د جلال آباد ښار په شېرزي لوبغالي کې راټول شوي وو او د سولې له روانو هڅو یې ملاتړ څرگند کړ. دوی د جگړې پر ښکېلو لورو غږ وکړ چې سوله وکړي او له جگړو لاس پر سر شي؛ څکه په خبره یې د جگړو دوام یوازې هېواد په کنډوالو بدلولی شي نه یې پرمختگ ته پرېږدي، نه خپلواکۍ ته او نه یې هم هوساینې ته!په اصل کې د طالبانو جگړه د اسلام له ناسمو روایتونو د پاکستان دغه راز کرایه شویو کسانو له خوا پر روایتونو پر مخ وړل کېږي، خو دا د افغان دیني عالمانو او د اسلامي نړۍ دیني عالمانو د فتواوو پر خلاف څرگندونې دي، موږ په همداسې حال کې د افغانستان د حج او اوقافو وزارت دا دریځ ستایوو، خو دا بسنه نه کوي، بلکې په کار ده، چې د افغانستان دیني عالمانو د نړۍ له دیني عالمانو سره یوه ستره غونډه بیا هم را وبولي، چې په هغه کې د پاکستاني دغه راز کرایه شویو او تش په نامه مفتیانو خبرې او غیر اسلامي څرگندونې رد کړي!که څه هم د نړۍ دیني عالمانو څو څو ځلې دا جگړه حرامه بللې، خو سخته اړتیا ده، چې د نړیوالې ټولنې په ملاتړ د پاکستان دغه تش په نامه مفتیان مناظرې ته راکش کړل شي او هغوی ته په ښکاره توگه داسې خوله ماتوونکی ځواب ورکړل شي، چې بیا هم هېڅکله د هغوی خبرې اغېزمنې نه وي. د دې ترڅنگ افغان حکومت باید د طالبانو پر ځای له پاکستان سره د سولې خبرې پیل کړي. له دې پرته به د سولې هڅې هېڅکله هم مثبته پایله ونه لري!



# د وروستیو بریدونو تر شا د چا لاس دی؟

**تمیم**

په پلازمېنه کابل او دغه راز ټول افغانستان کې هدفي وژنو، بریدونو او حملو زور اخیستی دی، چې وروسره سم یې د سولې هڅې هم تتې کړې دي، دغه راز حالت په کور د ننه او نړیواله کچه د سختې اندېښنې وړ گرځېدلی دی، د کابل په هر سیمه کې هدفي وژنې روانې دي، دا ځل په هدفي برید کې یو ژورنالېست په نښه شو، چې د افغانستان بانک دری نور کسان هم ورسره ووژل شول. پرون سهار د کابل په خورا خوندي سیمه څلورم مکروریانو کې د یوې چاودنې له امله د افغان ژورنالېست، یما سیاوش په گډون د افغانستان بانک دری کارکوونکې وژل شوي دي.د کورنیو چارو وزارت وایي، پرون سهار د کابل ښار څلورم مکروریانو سیمه کې د افغانستان بانک پر یوه کرولا ډوله موټر د مقناطیسي ماین چاودنه شوې، چې له امله یې د افغان خبریال یما سیاوش په گډون د موټر چلوونکی او یو ساتونکی وژل شوي دي. یما سیاوش د طلوع تلوېزیون د سیاسي خپرونو او خبرونو یو پخوانی ویاند و. د چارواکو پر وینا، له چاودنې وروسته موټر اور اخیستی او په بشپړ ډول له منځه تللی دی. په سیمه کې عیني شاهدانو ویلي چې د چاودنې له امله یو شمېر کسان ټپیان شوي هم دي.د یما سیاوش ورور بکتاش سیاوش هم تائید کړې چې ورور یې په دغه چاودنه کې وژل شوی دی. امنیتي چارواکي وایي چې د پېښې په اړه یې پلټنې پیل کړې او ډېر ژر به یې معلومات له خلکو سره شریک کړي.په تېر کې هم دا ډول بریدونه شوي او د خصوصي تلوېزیونو کسان او سیاسي شنونکي په هدفي بریدونو کې په نښه شوي دي، خو پوښتنه دا ده، چې دا بریدونه څوک کوي؟ په اصل کې هدفي بریدونه هم د وسله والې مخامخ جگړې په لړ کې زور اخلي، یعنې کله چې اوربند ونه شي او د سولې لپاره په اوسني فرصت کې مذاکرات د څه ناڅه دوو میاشتو په لړ کې پیل نه شي، نو طبیعي ده، چې دا ډول بریدونه به هم پراخېږي! په نړیواله کچه هم په افغانستان کې دغه حالت ته د اندېښنې په سترگه کتل کېږي، خپله امریکا په پوځي برخه کې د طالبانو د بریدونو او دا ډول هدفي وژنو له امله اندېښنه ښکاره کوي او آن له طالبانو سره د قطر پر تړون هم نیوکه کوي.د امریکا دفاع وزارت یا د پنتاگون چارواکو وېیلي چې په افغانستان کې د طالبانو د حملو او تشدد زیاتوالی له امریکا سره د دې ډلې د فبرورۍ موافقه له خطر سره مخامخ کوي. د افغانستان د بیارغونې لپاره د امریکا ځانگړي سرمفتش هم په تازه راپور کې وېیلي چې د پنتاگون چارواکیو ورته وېیلي چې طالبانو د افغانستان په ټولو برخو کې تاوتریخوالي ته زور ورکړی او دا مسئله هغې موافقې ته زیان پېښوي چې پر اساس یې امریکایي پوځیان د راتلونکي کال تر مې میاشتې پورې له افغانستانه وځي.جان سوپکو په خپل دری میاشتني راپور کې، چې تازه خپور شو، وېیلي چې د طالبانو له لوري په افغانستان کې حملې په سلو کې ۵۰ زیاتې شوې دي. جان سوپکو وېیلي، د سپتمبر تر پایه پورې په وروستیو ۳ میاشتو کې د ورتېرو ۳ میاشتو په پرتله پر افغان امنیتي ځواکونو او ملکي وگړو بریدونه په سلو کې ۵۰ ډېرې شوي دي. په همدې موده کې ۲۵۶۱ ملکیانو ته مرگ ژوبله اوښتې چې ۸۷۶ وژل شوي او نور ژوبل شوي دي. دا په داسې حال کې ده چې لسگونه زره ملکي وگړي د طالبانو د حملو له کبله د خپلو مېنو پرېښودو ته اړ شوي دي. د افغانستان د بیارغونې لپاره د امریکا د سرمفتش راپور په داسې وخت خپرېږي چې په دې وروستیو ورځو کې پر کابل پوهنتون او دا دی دا وروستي خونړي برید څه ناڅه ۳۰ تنه وژلي او لسگونه نور ژوبل شوي. د جان سوپکو د راپور پر اساس، د پنتاگون چارواکو وېیلي، د تاوتریخوالي زیاتېدا او د حملو کمولو ته د طالبانو نه لېوالتیا په نهایت کې د امریکا او طالبانو موافقه زیانمنولی شي.هو دا بریدونه او جگړې په بشپړه توگه له امریکا سره د تړون او په دوحه کې د سولې روانو مذاکراتو پر خلاف دي، نو اوس د دې وخت دی، چې امریکا په خپل دغه تړون له سره کتنه وکړي، څکه خپله په امریکا کې هم پر دغه تړون نیوکه ده، د فبرورۍ په ۲۹مه له قطر کې امریکایي پلاوي له طالبانو سره داسې تړون لاسلیک کړ، چې گنې هغوی دې سوله وکړي او د دې لپاره دې اوربند وکړي. اوس د جان سوپکو په راپور کې هم په دې برخه کې پر دغه تازه راپور کې راغلي، د فبرورۍ د میاشتې موافقه وېیل شوي چې په ټول افغانستان کې باید تاوتریخوالی کم شي،خو بیاهم سیگار وېیلي چې طالبانو د دې خلاف پر افغان امنیتي ځواکونو حملې تر پخوا زیاتې کړې دي. د افغانستان د بیارغونې لپاره دامریکا ځانگړي سرمفتش خبرداری ورکړی چې په تېرو درېیو میاشتو کې جگړې او تاوتریخوالی کابو ۵۰ سلنه زیات شوی دی.د فبرورۍ په ۲۹ امریکا او طالبانو موافقه له افغانستانه د امریکایي پوځیانو د وتلو او د طالبانو له لوري د تشدد د کمولو موافقه لاسلیک کړه، ورپسې کابو دوې میاشتې وړاندې د افغانستان د دولت او طالبانو د سولې خبرو لپاره دروازې پرانیستل شوې دي، په قطر کې د امریکا او نړیوالې ټولنې په همکارۍ او مرسته د سولې د مذاکراتو د پیل پرانیسته وشوه، خو دا دی دوې میاشتې کېږي، چې لا هم طالبانو دا خبرې نه دي پیل کړې او په مقابل کې یې جگړې او هدفي وژنو ته زور ورکړی دی. خو اوس برعکس حالت روان دی، د تېرو دوو میاشتو تاوتریخوالی بې ساری بلل شوی چې په کې گڼه ملکي مرگ ژوبله اوښتې ده.د امریکا سرمفتش جان سوپکو هم وېیلي، په دوبي کې د اوربند له څو ورځو پرته په دغه هېواد کې تاوتریخوالی پر له پسې ډېر شوی تر دې چې اندېښنه شته چې تاوتریخوالی ښایي د سولې خبرې له خطر سره مخامخ کړي. فرانس پرېس خبري اژانس د جان سوپکو له قوله وېیلي، د سپتمبر تر پایه پورې په وروستیو ۳ میاشتو کې د ورتېرو ۳ میاشتو په پرتله پر افغان امنیتي ځواکونو او ملکي وگړیو بریدونه په سلو کې ۵۰ ډېر شوي دي. په همدې موده کې ۲۵۶۱ ملکیانو ته مرگ ژوبله اوښتې چې ۸۷۶ وژل شوي او نور ژوبل شوي دي. دا په داسې حال کې ده چې لسگونه زره ملکي وگړي په هلمند، کندهار او ارزگان کې د طالبانو د حملو له کبله د خپلو مېنو پرېښودو ته اړ شوي دي.د افغانستان د بیارغونې لپاره د امریکا د سرمفتش راپور په داسې وخت خپرېږي چې دا اوونۍ پر کابل پوهنتون په خونړي برید کې ۲۲ تنه ووژل شول او ۴۰ نور ژوبل شول. د دغو بریدونو تر شا په ښکاره توگه د بهرنیو لاس دی، دا بریدونه له بهره پلانېږي او د هغوی ترهگرې ډلې ورته را اوستول کېږي، خو اوس د دې باید پلټنه وشي، چې دا ډلې څوک خپلو موخو ته د رسېدا لپاره کښته پورته کوي؟ دا د افغان حکومت او ورسره د امریکا په شمول د ناټو او نړیوالې ټولنې مسوولیت، چې دا غداران او د ترهگرۍ عاملان ومومي او د بشري حقونو نړیوالو ادارو په ملاتړ یې پر خپلو سزاگانو ورسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د امریکا له نوي ولسمشره د افغانانو حقه غوښتنې؟

رفیع الله



د تېرې سې شنبې په ورځ په امریکا کې ولسمشریزې ټاکنې تر سره شوې، د امریکا ولسمشرۍ ته ډونالډ ټرمپ او جوبایډن کاندیدان وو، اټکل کېږي چې له ټرمپه بایډن مخکې دی او د ټرمپ پر وړاندې یې ډېرې رایې خپلې کړې، خو د دوی بریالیتوب به راتلونکې ته پرېږدو. موږ ته له ټولو مهم د افغانستان امنیت او تلپاتې سوله ده، نو پوښتنه هم دا ده چې د امریکا راتلونکی ولسمشر به په دې اړه څومره اغېزمن واقع شي، آیا دوی به په افغانستان کې د سولې خبرې بریالۍ که یو نامالوم لور ته کش کړي؟ بې له شکه په امریکا کې د یو نوي حکومت رامنځ ته کېدل به نه یوازې پر افغانستان، بلکې د نړۍ پر ډېرو هېوادونو اغېزه ولري، خو دا اغېزه به ډېره حساسه نه وي. په امریکا کې د ټاکنو له پای ته رسېدو سره به د افغان سولې په پروسه کې ټولییز بدلون رامنځ ته شي. ټرمپ او بایډن دواړه افغانانو ته ازمایل شوې څېرې دي، ټرمپ اوسنی جمهور رییس دی او بایډن د پخواني جمهور رییس بارک اوباما لومړی مرستیال و. په امریکا کې چې هر حکومت رامنځ ته کېږي، په پایله کې به د افغان سولې برخلیک هم په ډاګه شي. امریکا د نړۍ یو اقتصادي، پوځي او سیاسي ځواک دی. په دغه هېواد کې ټاکنې او د نوي حکومت رامنځ ته کېدل د افغانانو د ژوند پر بېلابېلو اړخونو ښکاره او جدي اغېزه لري. که د دغو دواړو کاندیدانو له ډلې هر یو واک ته ورسېږي، نو د سولې په پروسه کې به تجدید نظر وشي او د افغانستان لپاره به نوي شرایط وضع شي،خو د افغانستان غیور ملت د امریکا له راتلونکي ولسمشره غواړي، چې په افغانستان کې ملي خپلواکي، ټولنیز ارزښتونه او د ښځو حقونه خوندي وساتل شي، همدا راز د افغان حکومت شل کلنې لاسته راوړنې د سولې قرباني نه کړي او هغه ژمنې عملي کړي، چې امریکا له افغانستان سره په تړونونو کې لاسیک کړې دي، د امریکا راتلونکی ولسمشر دغه ژمنې باید د متقابل درناوي او ګډو ګټو په چوکاټ کې په ښه شان عملي کړي.

افغان ولس د امریکا له راتلونکي ولسمشره غواړي، چې افغان سولې ته دې لومړیتوب ورکړي. دغه راز د افغانانو لپاره د امریکا او افغانستان همکاري مهمه ده، څنګه چې لیدل کېږي طالبان سولې ته زړه نه ښه کوي، د امریکا راتلونکی ولسمشر چې هر څوک وي، باید په افغانستان کې د داسې سولې لپاره کار وکړي، چې د افغانانو له ملي ارزښتونو، د ښځو حقونو او بشري حقونو ته درناوی په کې شوی وي. دغه راز افغان مېرمنې هم د امریکا له راتلونکي ولسمشره غواړي،چې په افغانستان کې د ریښتینې ډیموکراسۍ د تحقق په برخه کې له هغوی څخه ملاتړ وکړي. د افغان مېرمنو ترخنګ ودرېږي او په حکومتي جوړښتونو کې



د ښځو او نارینه وو تر مساوي ګډونه پورې ترې ملاتړ وکړي،ځکه افغان مېرمنو خپلو حقونو ته د رسېدو لپاره په وروستیو کابو دوو لسیزو کې زیاتې قربانۍ ورکړې، دا قربانۍ باید له پامه ونه غورځول شي. د ښځو سیاسي، ټولنیزې، فرهنګي او مدني لاسته راوړنې چې په تېرو دوو لسیزو کې د نړیوالې ټولنې او د امریکا په همکارۍ ترلاسه شوې د دغو لاسته راوړنو د ساتنې لپاره باید د دښمن پر وړاندې ټینګه مبارزه وکړي،د دوی حقونه خوندي وساتل شي او افغان مېرمنې یواځې پرېنږدي، چې یو ځل بیا شل کاله وړاندې تیارو ته شاتګ وکړي، د امریکا حکومت تل له افغان ښځو سره د سیاسي او ټولنیز وضعیت د ښه‌والي په برخه کې مرستې کړې او اوس د دې وخت رارسېدلی چې له نارینه وو سره مساوي حقونو ته د رسېدو لپاره د سولې په پروسه کې هم له افغان ښځو ملاتړ وکړي. افغان مېرمنې تمه لري چې د سولې په خبرو کې د ښځو حقونه،رسنیز فعالیتونه او همدا شان بشري او مدني حقوق باید د سرې کرښې په توګه وي. دوی اندېښنه لري او له دې په وېره کې دي چې د افغانستان په اړه د امریکا په سیاستونو کې په احتمالي بدلون سره به یو ځل بیا په افغانستان کې جګړه زیاته شي او افغان ښځې به د دغو جګړو اصلي قربانیانې شي.

امریکا له افغانستان سره له ستراتیژیک تړون سربېره امنیتي او دفاعي تړون هم لري، چې له مخې په افغانستان کې د امریکا پاتې کېدل قانوني او امریکا له افغانستان سره په بېلابېلو برخو کې همکاري کوي. امریکا په فبرورۍ میاشت کې له طالبانو سره هوکړه لاسلیک کړه، چې له مخې به یې امریکایي سرتېري له افغانستانه وځي.د دغه تړون له مخې په قطر کې بین الافغاني خبرو ته د چمتووالي لپاره د افغانستان د دولت او طالبانو د پلاوو د تماس ډلې خبرې رواني دي، خو لا هم په خبرو کې څرګند پرمختګ نه تر سترګو کېږي.د امریکا راتلونکی ولسمشر باید له بشپړې سولې وړاندې له افغانستانه ونه وځي.لومړی باید په هېواد کې تلپاتې او باعزته سوله راشي، پر طالبانو باید فشار راوړي،چې سولې ته غاړه کېږدي او د جګړې له ډګره راوګرځي، نړیواله ټوله او امریکا باید افغانستان بیا یوازې پرېنږدي، چې افغانستان په خپلو پښو ودرېږي او بیا د وسله والو پر ځاله بدل نه شي. ځکه په افغانستان کې د ترهګرۍ پر وړاندې جګړه امریکا پیل کړه او پای ته رسول یې هم پر دوی پورې اړه لري، افغانان د سولې غوښتونکي دي، په هر قیمت چې وي باید په هېواد کې تلپاتې او باعزته سوله راشي، نو په کار ده چې د امریکا راتلونکی ولسمشر په افغانستان کې اوږده جګړه ختمه او په جدي توګه د سولې لپاره کار وکړي، په قطر کې د افغان حکومت او طالبانو پلاوي څه د پاسه دوې میاشتې کېږي چې په مذاکراتو بوخت دي، خو تر اوسه په دې نه دي توانېدلي چې د مذاکراتو پر اجنډا او تګلارې کومې هوکړې ته ورسېږي.د مذاکراتو له پیلېدو سره هم‌مهاله د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې جګړې هم زور اخیستی او هېوادول یې سخت اندېښمن کړي دي.

## د پوځي عملیاتو څرنګوالی نوې کتنه غواړي

ن.ش

په هېواد کې امنیتي حالت د اندېښنې وړ دی. په ګڼو سیمو کې جګړه روانه ده او په دې جګړه کې خلک وژل کېږي. روان وضعیت ته په کتو، د پوځي عملیاتو څرنګوالی نوې کتنې ته اړتیا لري. د باخترآژانس مفسر دا موضوع څېړلې ده او لیکي:

زموږ امنیتي- دفاعي ځواکونه په خورا مېړانه او زړه ورتیا د هېواد د آزادۍ، خپلواکۍ، مځکنۍ بشپړتیا او ملي واکمنۍ دفاع کوي او قربانۍ ورکوي؛ خو له دې سره سره امنیتي وضعیت ښه نه دی او د هېواد په ګڼو سیمو کې زوروره جګړه روانه ده، په هلمند کې جګړه د لښکرګاه ښار ته ورسېده. په کندهار کې په ډېرو آرامو ولسوالیو لکه ارغنداب او پنجوایي کې جګړې زور واخیست. په بدخشان کې هم په یوشمېر ولسوالیو کې جګړه روانه ده. د اوسنۍ جګړې یوه ځانګړنه دا ده چې شاتګ او مختګ په کې ډېر دی. وسله وال مخالفان برید کوي او دولتي ځواکونه شاتګ کوي، بیا دولتي ځواکونه برید کوي او مخالفان شاتګ کوي. ستونزه دا ده چې په دغه راز شاتګ او مختګ کې عادي خلکو ته زیان رسېږي، کورونه یې ورانېږي، باغونه یې له منځه ځي، کډې کولو ته اړکېږي او له نورو ډول ډول ستونزو سره مخ کېږي. ښه بېلګه یې موږ په هلمند کې ولیده. اوس پوښتنه دا ده چې ولې داسې کېږي؟ موږ په تېرو شلو کلونو کې د دغه راز پوځي تیاتر شاهدان یوو. که دا وضعیت بدلون و نه مومي؛ نو څرګنده ده چې هم به جګړه اوږده




شي او هم به ورسره مرګ ژوبله ډېره شي. دا وضعیت بدلون ته اړتیا لري، ژور بدلون ته اړتیا لري. دا بدلون باید له کومه ځایه پیل شي؟ زموږ په اند تر هرڅه وړاندې په امنیتي تدابیرو کې تصادفي پرېکړو ته باید پای ورکړل شي. په دې مانا هر ګام چې اخیستل کېږي، هره پرېکړه چې کېږي او هر عملیات چې تر لاس لاندې نیول کېږي، باید د تصادف له مخې نه وي. او د دې لپاره د دغه شان پرېکړو مخه ونیول شي، دقیق او هراړخیز پلان ته اړتیا ده. اړوندې ادارې باید د هرولایت، هرې ولسوالۍ اوهرکلي لپاره جلا او ځانګړی پلان جوړ کړي. دا پلان باید د هرولایت، ولسوالۍ او کلي له واقعیتونو سره سمون ولري، د هغه ځای د خلکو غوښتنو ته ځواب وویلی شي. د پلان اصلي موخه باید په اړونده سیمه کې د ډادمن امنیت خوندي کول وي، داسې امنیت چې بیا هېڅوک ونه شي کولای هغه ګډوډ کړي. که امنیتي ځواکونه په یوه سیمه کې پوځي عملیات ترسره کوي؛ نو باید دا عملیات په داسې توګه ترسره شي، چې له یوې خوا ځایي خلکو ته په کې زیان ونه رسېږي او له بلې خوا باید سیمه د تل لپاره امن او خوندي شي.د جګړې له ښکېلو غاړو له لوري غلچکیو بریدونو ته باید د پای ټکی کېښودل شي. که یوه سیمه د امنیتي ځواکونو په لاس کې وي، باید په هېڅ راز شرایطو کې دا سیمه بېرته د امنیتي ځواکونو له لاسه ونه وځي. موږ دا واقعیعت هم له پامه غورځولی نه شوو چې په یوه سیمه کې ډاډمن امنیت یوازې له پوځي لارو ټینګېدای نه شي؛ بلکې د ډاډمن امنیت د ټینګولو لپاره اقتصادي تدابیرو ته هم اړتیا ده. په جګړه ځپلیو سیمو کې باید د بیارغونې چارې پیل شي، د خلکو په ژوند کې بدلون رامنځ ته شي، روغتیایي اسانتیاوې ترلاسه کړي، د ښوونځیو دروازې پرانیستل شي، سړکونه جوړ شي، ویالې او کاریزونه ورغول شي. پوځي عملیات باید د بیارغاونې له دغه راز چارو سره غبرګ پر مخ یووړل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیواد
یکشنبه د لړم ۱۸مه ۱۳۹۹ ل کال ● د ربیع الاول ۲۲مه ۱٤٤۲ ق ● د نومبر ۸مه ۲۰۲۰ کال ● خصوصي ګڼه ۱۷۷ ● پرله‌پسې ۴۹۶۳مه ګڼه



# په کندهار کې جګړو زرګونه ماشومان له زده کړو محروم کړي




© picture alliance/AP Photo/M. Anwar Danishyar

د کندهــار د پوهنې ریاسـت مطبوعـاتي ویاند نظرمحمد صمیمي له آلمان ږغ دویچه ویله سره پــه ځانګړې مرکه کې ویلي چــې په ارغنداب، ژړی، پنجوایــي او میونــد ولســوالیو کــې د وروستیو جګړو له امله ۴۸ ښوونځي تړل شوي دي.د هغه پــه خبره له دې املــه اتلس زره زده کوونکــي اوس له خپلو کورونو د بېځایه کېدو لــه امله له زده کړو محــروم دي.هغه وویل: (( دا د اندېښنــې وړ خبره ده، ځکه په تېر تعلیمي کال کې یو وار کرونا د زده کوونکو ډېر وخت ضایع کړ او اوس بیا جګړو په یادو ســیمو کې تعلیمي نظم ګــډوډ کړ.))هغه زیاته کړه: د کره شمېرو له مخې چې له ۴ ولسوالیو خلک بېځایه شــوي دي،په ژړی کې ۱۰ په پنجوایي کې ۲۴په ارغنداب کې ۱۳ او په میوند ولســوالیو کې یو ښــوونځي تړل شــوي دي.))دغه بېځایه شوي کډوال، چــې دا مهــال د کندهار ښــار او ډنډ ولسوالیو په بېلا بېلو سیمو کې ژوند کوي وایي، لــه یوې خوا یــې کورونه او بل یــې په باغونو کې انار پاتې شــول، خو دا یې بیا تر ټولو لویه ستونزه ده، چې اولادونه یې له زده کړو محروم شــول.د کډوالو په خبره په ســیمو کې یې ډېره شدیده جګړه ده،بېځایه شوي کډوال په جګړه کې له دواړو خــواوو غواړي، چې ترهرڅه ژر دې جګــړه ودروي، چې خپلو کورونو ته بېرته ســتانه او په ارام زړه ژوند وکــړي او اولادونو یــې درس شروع کــړي.د میونــد او پنجوایي ولســوالیو دوه تنه اوسېدونکي د خپلو کړاوونو کیســه کوي.د محمد رفیق په نامه یو تن وایي: (( زما څخه شــخصاً د انــارو ډک باغونه او له ســامانونو ډک کور پاتې شو، مګر باور وکړئ زه د هغــو پرځای د خپلو اولادونو راتلونکې ته فکر وړی یم.))هغه زیاتوي: ((ځکه باغونه او سامان پیداکېږي، خو زما د اولادونو راتلونکی چې خراب شو،بیا یې جوړول سخت کار دی.)) د آغا جان په نوم یو بل بې ځایه شــوی وایي: (( مور له طالبانو او افغان حکومته ســوله غواړو، چې بېرته خپلو کورونو ته ولاړ شــو، اولادونه ښــوونځیو ته ولېږو.))هغــه زیاتوي: ((که څه هم موږ په یــوه یوه جوړه کالیــو کې له خپلو ډکو کورونو راوتلي یــوو، مګر تر ټولو مې په دغه اولادونو فکر خــراب دی، چې راتلونکې یې نامعلومه شــوه. زموږ خوشحالي بېرته خپلو کورونو ته ســتنېدل دي.))پــه کندهارکې مدني فعــالان او د بشري حقونو ملاتړي هم په دې اړه اندېښنه ښــیي او په جګړه کې له ښکېلو غاړو غــواړي، چې نوره جګړه بس او ولس پرېږدي، چې د ســولې په فضــاء کې ژونــد او زده کړې وکړي. په کندهارکې د کډوالو او راستنېدونکو چارو رییس دوســت محمد نایاب دویچه ویله تــه ویلي، چې د ناامنیو له امله کندهار ښــار او ډنډ ولســوالۍ تــه ۶ زره بېځایه شــوي کډوال راغــلي، چې له ځینــو کورنیو سره یې مرســته هم کړې ده.

محمدابراهیم

# په افغانســتان کې طبیعي سرچینې له جګړو څومره خوندي دي؟

پــه افغانســتان کې څه ناڅــه ۴۰ کلنې جګړې نه یوازې دا چې انســاني زیانونه واړول، بلکې د دغه هېواد طبیعت یــې هم زیانمن کړ. د جګړو دوام اوس هــم د چاپېریــال او طبیعي منابعو د خوندیتوب پر وړانــدې یو ګواښ ګڼل کېږي.که څــه هم ویل کېــږي چې افغانســتان د طبیعي



منابعــو او ځنګلونو په لرلو سره یــو بډای هېواد دی، خــو د ځلــورو لســیزو جګړو د دغــه هېواد پر ټولو شــتمنیو نــاوړه اغېزه کــړې ده.د ملګرو ملتونــو ســازمان د نوومبر ٦مه، په نښــتو کې د طبیعي منابعو د کارولــو د مخنیوي د ورځې په نــوم نومولې ده. هغه ورځ چې په نښــتو کې یې لــه طبیعته هر ډول اســتفاده منع کړې ده، خو په افغانســتان کــې دغه منابع څومره له نښــتو خونــدي پاتــې دي؟د کونړ ځنګلونــه څومره له جګړو خوندي دي؟د کونړ ولایت د کرنې ریاست سرپرست نجیب الله عادل ازادۍ راډیو ته وویل، په دغه ولایت کې ۴۲٦ هکتاره ځنګلونه وو، خو د ۴۰ کلنــو جګړو له امله د دغو ځنګلونو له ۳۰ نه تر ۴۰ ســلنې پورې، پرې شــوي دي.ښاغلي عــادل زیاته کــړه: (( دغه ځنګلونه پــه بېلابېلو ډولونو پرې شــوي او کله ناکله یې په جګړو کې اور اخیستی دی. دا ټول زیان دی چې طبیعي منابعو ته رســېږي.))د ده په خبره د کونړ ولایت ډېــر ځنګلونه په منګــي، مروره، اســمار، غازي اباد، ناړی، څوکۍ او نرنګ ولسوالیو کې شتون لري.ملګــرو ملتونو د نوومبر ٦مه، په نښــتو کې د طبیعــي منابعو د کارولــو د مخنیوي د ورځې په نوم نومولې.ښــاغلی عادل وایي، که وضعیت همدا شــان دوام وکړي، دغــو ځنګلونو ته به نور زیان هم ورســېږي.د جګړو لمن د افغانستان د غرونــو تر لمنو هم رســېدلې ده.د بدخشــان پر سرو زرو د نښــتو او جګړو اغېزه:د شــمال ختیځ ولایت بدخشــان چې د زرو او لعلونو ولایت دی، د دغــه ولایت والي محمد ذکریا ســودا زیاتوي، طالبانو او غیر مسوولو وسله والو، له ناامنیو نه په ګټې اخیســتنې هڅې کړې چې د دغه ولایت د یاوان، راغســتان او کوهستان په ولسوالیو کې د زرو له کانه د ریګ شویي له لارې چې ډېر عاید لري، ګټه واخلي.په ورته وخت کې د افغانستان د کانونو او پټرولیم وزارت وایي، جنګونو د هېواد په پراختیایــي پروژو منفي اغېزه کړې ده.د دغه وزارت مســوولین وایــي، په هېواد کې شــاوخوا ۱٦۰۰ کانونه ثبت شوي چې ډېر یې د حکومت تــر واک لاندې دي، خو ځینــې یې د ناامنیو له امله په ناقانونه توګه کیندل کېږي.د دغه وزارت ویانــد عبدالقدیر مطفــي ازادۍ راډیو ته ویلي: (( یو شــمېر ســیمې چې د دولت د وســله والو مخالفینــو له خوا په کې ناقانونه کیندنې کېږي هغه ځانګړې دي، لکه د بدخشــان او هلمند او همدا شان یو شــمېر سیمې په شمالي، جنوبي او ختیځو ولایتونو کې هم شــته چې په ناقانونه توګه اســتخراخ او وړل کېږي او ځینې هېوادونه تــرې د جنــګ لپــاره ګټــه اخلي.))بــل خوا د افغانســتان د چاپېریال ساتنې اداره وایي، روانو جګړو له انســاني تلفاتو وروسته، طبیعت ته هم درانه زیانونه رسولي دي.د دې ادارې د اطلاعاتو او عامه اړیکو رییس محمد قاسم رحیمي ویلي: (( جنګونو له انســاني تلفاتو وروسته، چاپېریال تــه ډېرخطرونه پېښ کړي دي. د دغــو زیانونو ارزول، هر اړخیزو څېړنو او وخت ته اړتیا لري.)) دا په داســې حال کې ده چې اوس هم د هېواد



Anwari (RFE/RL)

پــه ځینو ولایتونو او ولســوالیو کې جګړې روانې دي، هغــه جګــړې چې د طبیعت ښــکلا یې له منځه وړې ده.


# پرکابل پوهنتون برید د طالبانو ناولې څېره لا بربنډه کړه

شاولي قرار

دپاکســتان ، ایران او روسیې په ګډون دسیمې او نــړۍ د زبېښــاکګرو، تېــري کوونکــو او نورو ماجرا غوښــتونکو هېوادونو پــه مذبوحانه او بې شرمانه لمســونو او هڅونــو سره دهغوی روزل شــویو وحــشي صفتــو طالبانو دافغانســتان د زرګونو خلکو د وینو دتویولو او داسې نورو ډېرو فجیعــو او شــنیعو عملونو د سرته رســولو په لړ کــې پر کابل پوهنتون بې رحمانه او وحشــیانه ترهګریز برید وکړ، دوه ویشت تنه یې شهیدان او ځلویښــت محصلین یې ټپیــان کړل چې په پایله کې یــې یادو طالبانو نه یوازې خپله پلیته او ناولې څېره لابربنډه کړه او له علم ، ښــووني او روزنې سره یې خپله دښمني په ثبوت ورسوله ، بلکې دافغانســتان داسلامي جمهوري دولت دمشر محمد اشرف غني او دســیمې او نړۍ د نورو هېوادونــو د مشرانو په ګډون یې دنړیوالو او ســیمه ییــزو ســازمانونو ، ټولنــو او ژغورنده غورځنګونو زیاتې غوســې ، کرکې اندېښنې او نیوکې هم راوپارولــې او په ترڅ کې یې پرکابل پوهنتون د پاکستان دروزل شویو ګوډاګیانو یاد وحشیانه او بې رحمانه ترهګریز برید په سختو ټکووغانده ، محکــوم یې کړ ، زیات لعنتونه یې



پرې وویل: او پر دې یې په کلکه ټینګار وکړ چې دافغانســتان دتاریخي او قسم خوړلو دښمنانو دغه ګوډاګــي طالبان پــه هېڅکله داونه شي کړای چې له بربریت او دهشــت څخه په خپلو دغه ډول ډکو وحشــیانه او بې رحمانه بریدونو سره پــه هېواد کــې دمحصلینــو او زده کوونکو دعلم او پوهې ، زده کړو ، ښووني اوروزنې مخه ډب کړي ، له یادو ســترو نعمتونو څخه یې بې برخې کړي او د جهل دســترې بدمرغۍ د ژورو ګړنګونو تل ته یې پورې وهي. په پاکستان کې دطالبانو دیوې باوري سرچینې له قوله طالبانو له خپلوپاکستاني بادارانو سره دسلا مشورې له مخې دپاکستان په پېښور کې دطالبانو پریوې دیني مدرسې دوروســتی برید په غبرګون کې دغڅ اخیســتلو لپاره پر کابل پوهنتون ترهګریز برید کړي دی چې دهېــواد په ګوټ ګوټ کې دطالبانو دغه ډول مــخ پرزیاتېدونکو ترهګریزو بریدونــو دقطــر پــه دوحه کــې د افغانســتان داســلامي جمهوري دولــت او طالبانو دپلاویو ترمنځ د ملي پخلاینې او روغې جوړې پر خبرو هم تور ســیوری غوړولی او په غبرګون کې یې پــه دوحه کې پر افغان مذاکراتي ټیم غږشــوی دی چــې نور دی لــه طالبانــو سره ددغه ډول ټکنیــو او ځنډنیو خبرو لــه دوامه ډډه وکړي او افغــان حکومت دې دامریکا، اروپايې ټولنې او ناتو په ګډون له نړیوالې ټولنې او نورو دوســتو او مرســتندویو هېوادونو سره د پوره همغږۍ له مخې دافغان حکومت او طالبانو دپلاو یوترمنځ دیادو خبرو پرځای پر افغانســتان دڅه دپاســه څلویښــت کلنو تپل شــویو خونړیو جګړو دپای ته ر ســولو لپــاره دنورو اغېزمنــو بدیلو لارو دژر موندلــو په لټــه کې شي او دهغو پــه پلي کولو سره دطالبانــو مشران او دهغوی ځالې او ملاتړ کوونکي، روزونکي ، تولیدوونکي او وســله وال کوونکــي هېوادونــه په نښــه کــړي او دبېخي نابــودۍ تور و کندوتــه دې پورې وهي، نو هله به یې پرمټ په افغانســتان کې دتلپاتې سولې ډېوه د تل لپاره پرځلېدو راشي او دافغانســتان ، هنــد، بنګلــه دېش او امریــکا په ګــډون به دســیمې او نړۍ هېوادونه دبشر د ډېرســتر او ګډ دښــمن په توګــه دطالبانو اونــورو ترهګرو دترهګریــزو بریدونــو لــه خطرونــو څخــه دتل لپاره خوندي شي.




# معرفی کتاب ((نفرین دیورند)) مرز منفور

**مصطفی عمرزی**

وقـوع دیورنـد در تاریـخ افغانسـتان، واقعی ترین معنی یک مرز منفور اسـت. راجع به این تراژیدی، آثار، کتب و مباحث زیادی ارائه شده اند که اگر جلو آگاهان آن ها قرار داده شـوند، نو نیستند؛ اما این، به معنی ختم مقال نیست. عموماً آشـکارایی پیرامون خط دیورند در سایه ی تقابل افغانستان و استعمار انگلیس، روابط دیپلوماتیک و تلاش های مایل اتحاد شـوروی به ابحار گرم، صورت گرفته اسـت. یعنی خلط بیش از حد سیاسـی، گونه ای از تلقی رسمی این خـط را دامن می زند. بنا بـر این، ادعای جاگزینی پاکسـتان بـه معنی طـرف اصلی، ادامه کج بحثی هایی هم شمرده می شود که بنیـاد آن ها را در یک زمینه دیگر(اسـتعمار) گذاشته بودند.

این که چه گونه پاکسـتان را در جای استعمار انگلیس، طرف بشماریم، به لحاظ حقوقی هم مشـکل دارد؛ زیـرا طرف دعوای مـا به فاصله خیلی زیاد، ترخیص شـده اسـت(واقع شدن در جغرافیـای اروپـا)؛ هرچند سـایه نفوذ آن باقیست، اما تمثیل حاکمیت های به اصطلاح جیوپولیتیک شبیه پاکستان، نمی تواند طرفی را به کرسی بنشـاند که جزءتاریخ خط دیورند نیست.

در تاریخ خط دیورند، افزون بر نارسـایی های زیـاد، ناگفته های زیادی باقـی مانده اند که مـی توانند صـورت عمـداً ایجاد شـده توهم آن را بشـکنند. در چند صورت، فشـار دیورند، کاملاً محسـوس اسـت. ثقلت آن روی اقتدار سیاسـی معاصر، تیره سـاختن تنـازع داخلی که گویـا خیانت صورت گرفتـه و تبعاتی بدی که بر اسـاس آن ها به ماهیت دولت- حکومت افغانستان، زیان وارد می شود.

خط دیورند، زمانی واقع شـد که افغانستان با بیـرون رفتن از ملوک الطوایفـی پس از تجاوز دوم انگلیس، زعماتی مردی را تجربه می کرد که به قول مرحوم لویس دوپری که اگر استعمار روس و انگلیـس نمی بود، امیـر عبدالرحمن خان می توانست مرز های افغانستان را توسعه دهـد، ایـن حقیقت را هم در جلـو ما قرار می دهنـد که بـا خط دیورند، نیـروی فزاینده ای حصـار شـد که با یک رهـبری مقتدر، می توانست گسترش مرز های افغانستان به سوی ابحار را دوباره تضمین کند. به این لحاظ، می تـوان خط دیورنـد را که ظرفیـت های بشری یک قوم بزرگ را تقسـیم کرد، یک بُرش کاملاً حسـاب شـده هم تلقی کرد که از ترس اتحاد آن، انگلیـس ها در عقبه خویـش، تیره روزی هـای خودشـان(جنگ های افغان و انگلیس) را دیده بودند.

در جریان باز شـدن راز های سر به مُهر دیگر، این بار راجیو دوگرا با شـناخت پیش زمینه ها و پس زمینه های خـط دیورند، چند قضیه نو را جلو ما قرار داده که سال ها انتظار رونمایی آن ها را داشتیم.

خواننده افغان با مراجعه به نسخه های دری و پشتوی کتاب «نفرین دیورند»، متوجه می شود که صاحب این اثر، چه گونه وارد جزئیاتی شده که اکثراً در پرونـده دیورند- چنانی که ما می شناختیم- مکتوم مانده بودند.

خیلی عجیب نیسـت! خط دیورنـد با امضای امیـری گویـا پاس شـده کـه در اقتدارگرایی و توجـه به مرز هـای افغانی، حساسـیت بی نهایت داشت! امیر عبدالرحمن خان، موسس افغانسـتانی شـمرده می شـود که مرز هایش تثبیت شـدند. او مرز هـای داخلی(حاکمیت هـای ملوک الطوایفی) را نیـز چنان نابود کرد که حتـی امروز هم لطـف آن در میلان قدرت سیاسـی به مرکزیت، حس می شـود. امیر در طـول امارتـش، مناطق پشـتونخوای بزرگ را همـواره کمـک و تحریک می کـرد تا ذهنیت های آزادی را حفظ کنند.

خـط دیورنـد در زمینـه ای واقـع شـده کـه اقتدار امیـر عبدالرحمن خان، جای هیچ نوع معامله تهدید ارضی را باقی نمی گذاشـت. با این حال، ما خطی داریم که روی آن، حسـاب های مرز های گویا بین المللی پاکستان را باز کـرده اند و بدتـر از همه، برای مـا، پرونده ی مختومه عنوان می کنند.

یک نکته بسیار اساسی در کتاب راجیو دوگرا، ماجرای طرف شـدن امیـر در جریان امضای سند دیورند است. تا مطالعه «نفرین دیورند»، در هیچ جا نخوانـده بودم که انگلیس ها خط دیورند را در حالـی بالای امیر امضاء کرده اند که او سواد زبان انگلیسـی نداشت. این سند به زبان انگلیسـی اسـت. یعنی امیـری با آن همـه عظمت، شـان و آگاهی کـه بزرگی اش هنوز پشـت دشمنان مملکت را می لرزاند، آن قدر غافل می شـود که یک بخش بزرگ خاک هـای همتبارانش را فراموش کند؟ او نه شـاه شجاع بود و نه می توانست ببرک کارمل باشد.

حاکمیت امیـر عبدالرحمن خان، یعنی قدرت بلامنازعه ای که از داخل افغانستان منشه می گرفت و به خـودش متکی بود. بـا این حال، امیر از بازی های اسـتعماری آگاه بود. اگر در قضیه پنجده، عقب نشینی تکتیکی کرد، می دانست که شـبیه بلوای داخلی(تحریک هزاره ها) موضعش در جنـوب را تضعیف می کنند. قدرت های خارجی بـا راه اندازی جنگ های نیابتـی فرامـرزی، منافع خودشـان را تثبیت کرده اند.

در «نفرین دیورند»، توهم موج می زند. ما نمی توانیم به منطقی متوسل شـویم که خاستگاه اسـتعماری دارد. در زمینـه ی ایـن توهـم، میلیون ها مردم، جبراً جدا نگه داشته شده اند تا قدرتی شکل نگیرد که در ۶۰۰ سال پسین، خطوط زیاد تعـدی و تجاوز مردمان غیر بومی منطقه را شکسـته اسـت. اصلاً ایـن گمان به وجود می آید که چرا مردمی ملتهب نگهداشته شده اند که در چهارسوی جغرافیای ما، افزون بـر دولتداری و اقتدار، همیشـه بـا نیرو های اسـتعماری درافتاده انـد و نهادینه گی آن ها را طـرد کرده اند/ می کننـد. در واقع، دیورند، فراتـر از یک خط منفور، حصـار مردم و قدرت هاییسـت کـه امتیاز قـدرت مسـتمر تاریخی دارنـد و اگر فرصـت بیابند، همـواره جلو می رونـد.

در زمینـه مرز منفـور دیورند، یـک قوم بزرگ وجـود دارد که امتیاز دولتداری های مسـتقل را داشـته اسـت/ دارد. روحیات این مردم که دوست ندارند آقا بالا سر داشته باشند، آنان را در تله هایی اسیر ساخته که یکی هم دیورند اسـت. می توان تصور کرد که دیورند، نه فقط یک خط عمدی جدایی، بل مانع وصل قدرت هاییسـت که در محاسبات جیوسـتراتیژیک، اخـلال وارد می کنند. زمین گیری قوای روس و ضیاع منابع وافر مالی کشـور های درگیر در تنازع افغانسـتان که در حیـاط افغانی صورت می گیرد، یک نوع تداخل سـتمگرانه در زنده گـی مردمانـی نیز اسـت که وقتـی از رهبری تبـاری محروم مـی شـوند، در پراگنـده گی فکری، قدرت شـان به نفع جناح هایی تحلیل مـی رود کـه مغرضانـه سـعی کرده انـد/ می کنند در هرج و مرج زنده گی پشـتون ها، هم مخالفان خود را سرکـوب کنند و هم معادلات فرامرزی را رقم بزنند.

«نفریـن دیورنـد»، خشـم نفـرت بـار استعمارگرانیست که در برابر اراده آهنین یک ملـت، خورد شـدند، اما مراقب مانـده اند در بسـتر آن هـا، جدایی یک اصل باشـد. تلاش راجیـو دوگرا در تبیین هرچه بیشـتر مسـئله خط دیورند، روی سوال هایی استوار است که سمت بخشـیدن به آن ها، تا خلوت هایی می رود که استعمارگران در ابهام آن ها پیمان خط دیورند را تحویل داده اند.

آن چـه وجه تمایز کتـاب راجیـو دوگرا با کتـاب هایی می شـود که قبـلاً دیورند را تفسـیر کرده انـد، دور زدن شروح معمول اسـت. در کتـاب «نفرین دیورنـد»، قدرت سیاسی و بشری مردمی تحلیل شده که در واقع با نقش اثرگذار فرامرزی، اگر تاکنون در هـرج و مـرج زنـده گی مـی کنند یا ثبات شـان مقطعه ی اسـت، نمـی دانند که پوتانسـیل وحـدت جغرافیایی و قومی آنان اگر درسـت مدیریت شـود، می تواند محاسبات کلان خارجی را برهم بزند. ما به این لحاظ نیز تحت ستم واقع شده ایم که از قدرت و منطقه ما می ترسند.

هرچند مایه های فرهنگ عتیقه/ پوسـیده خراسانی- پارسی را بسیار نمی پسندم، اما گاهـی کُلی گویی هـای آن ها به درد می خورنـد. بهترین مصداق مصـراع «هر کجا مرز کشیدند، شما پُل بزنید!»، خط دیورند است.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د جمهورريیس غني په مشرۍ غونډې د نړیوال بانک پر تشویقي . . .



د افغانستان د اسلامي جمهوریت جمهورریيس محمد اشرف غني په مشرۍ غونډې پرون له غرمې مخکې په ارگ کې د نړیوال بانک د تشویقي بستو لپاره په ټاکل شویو ملاکونو (بېنچ مارکونو) بحث او خبرې وکړې.په پیل کې، اړوندو وزارتونو او ادارو د نړیوال بانک له لوري د تشویقي بستو لپاره د ټاکل شویو ملاکونو د وضعیت په اړه جمهورریيس ته معلومات ورکړل او وې ویل: نړیوال بانک روان کال له افغانستان سره د ٦٠٠ میلیون ډالرو په ارزښت د تشویقي بستو هوکړه لاسلیک کړې ،چې د یو شمېر ملاکونو د بشپړولو له امله ۴۰۰ میلیون ډالر د دولت خزانې ته انتقال شوي دي.د دوی پر وینا، د نړیوال بانک د شرایطو پر اساس پاتې ملاکونه د نومبر تر ۱۵ بشپړېږي، چې په پایله کې به یې د تشویقي بستې پاتې ۲۰۰ میلیون ډالر هم د دولت خزانې ته انتقال شي.جمهورریيس د نړیوال بانک د شرایطو پوره کولو لپاره د یادو وزارتونو او ادارو د کار او هڅو ستاینه وکړه او وې ویل: په دولتي دستگاه کې باید اصلاحات چټک او بیروکراسي له منځه یووړل شي.د هېواد جمهورریيس وویل: په ښه توگه خلکو ته د خدمتونو وړاندې کولو لپاره په سیستمونو کې اصلاحاتو راوستو او په دې برخه کې له بین المللي ټولنې سره شویو تعهداتو ته ژمن یوو.

## استرالیا : په افغانستان کې مو د خپلو ځواکونو د جنگي جنایتونو په اړه پلټنې پیل کړې

استرالیا وایي: په افغانستان کې یې د خپلو ځواکونو د جنگي جنایتونو په اړه جدي پلټنې پیل کړې دي.د استرالیا دفاع وزارت چارواکو په تازه څرگندونو کې ویلي، دوی ټول هغه راپورونه په جدي توگه څېړي چې د استرالیا د ځانگړو ځواکونو او په افغانستان کې د دغه ځواکونو د ماموریت او جنگي جنایتونو په اړه خپاره شوي دي.استرالیایي رسنۍ د یادو چارواکو له قوله وایي: دوی تر دې دمه لس قضیې څېړلې ، چې په هغه کې کسان ښکېل دي او دوی به د خپلو اعمالو سزاویني.سرچینه همدا راز وایي: د دغه راپورونو خپرېدل د دې سبب شوي، چې دوی د خپلو ځانگړو ځواکونو په جوړښت کې پراخ اصلاحات راولي او د ټولو هغو ادعاوو پلټنه وکړي ،چې د استرالیایي ځواکونو په اړه موجود دي.استرالیایي ځواکونو له ۲۰۰۵ تر ۲۰۰٦م کاله په ارزگان کې ماموریت کاوه ،چې د گڼو ملکي افغانانو په وژنه او شکنجه تورن شوي دي.په دې وروستیو کې د افغانستان او نړۍ د بشري حقونو په برخه کې ۲۵ بنسټونو د استرالیا له حکومت د ټولو جنگي جنایتونو د څېړلو غوښتنه کړې وه.



## د افغان حکومت پر خلاف د پاکستاني ملا څرگندونو . . .

په اعلامیه کې دغه راز راغلي، ټولې تروریستي او ترهگریزې ډلې په همدې دیني مدرسو کې پټنځایونه لري او ترهگر روزي.یاد وزارت وایي: افغانانو ته واضحه ده، چې ټولې ترهگرې ډلې په پاکستان کې فعالیت کوي او هېڅکله به د هغوی په دا ټول خبرو ونه غولېږي.اعلامیه زیاتوي: (( د ارشاد، حج او اوقافو وزارت د پاکستان د اسلامي نظریاتي کُنسل نه رسماً غواړي، چې د دې شخص د ماشومانه څرگندونو په اړه خپل رسمي دریځ واضح کړي، چې آیا دا د دوی په استازیتوب خبرې کوي؟))

# افغان اعلانات

به اطلاع محترم محمد ابراهیم ولد محمد کریم ولدیت حاجی مرجان مسکونه ناحیه دهم شهر کابل موکل محترم محمد ناصر بیدل ولد عبدالبصیر رسانیده میشود به اساس توجیه سوگند که از طرف نثار احمد ولد عیسی محمد مدعی بالوکاله صورت گرفته این دیوان مطابق ماده ۱۶۵ قانون اصول محاکمات مدنی حکم معلق به سوگند را صادر نموده که مطابق ماده ۱۶۶ قانون مذکور اگر از تاریخ نشر اعلان الی دوماه محمد ابراهیم مذکور حاضر محکمه نگردد به نکول حکمی آن اصدار حکم گردیده آنگاه حق شکایت را ندارد.۵۱۸۰

* * * * * * * *

شاروالی ولسوالی قره باغ در نظر دارد تا میدان ورزشی فوتسال خویش را درسال مالی ۱۴۰۰ به اجاره بدهد اشخاص و افرادیکه خواهش داوطلبی را داشته باشد درخواست های شانرا به شاروالی قره باغ بسپارند وخودشان از نشر اعلان الی ۲۱ روز کاری جهت داوطلبی حاضر باشند شرطنامه را میتوانند ملاحظه نمایند تضمین نقدا طور پیشکی اخذ میگردد.۵۱۴۱

* * * * * * * *

یک قطعه کارت جواز کار آقای Nepoon Kumar Chhetri دارای پاسپورت نمبر KPG003964 کارمند خارجی کمپنی رید انترنشنل آی ان سی مفقود گردیده اعتبا رندارد.5143

* * * * * * * *

یک قطعه کارت جواز کار آقای Sal Ram Thapa دارای پاسپورت نمبر K8497716 کارمند خارجی کمپنی رید انترنشنل آی ان سی مفقود گردیده اعتبا رندارد.5144

* * * * * * * *

یک قطعه کارت جواز کار آقای Sharad Chand دارای پاسپورت نمبر E4740559 کارمند خارجی کمپنی رید انترنشنل آی ان سی مفقود گردیده اعتبا رندارد.5146

* * * * * * * *

یک قطعه کارت جواز کار آقای SharadRana دارای پاسپورت نمبر H7390271 کارمند خارجی کمپنی رید انترنشنل آی ان سی مفقود گردیده اعتبا رندارد.5147

* * * * * * * *

یک قطعه کارت جواز کار آقای MilonChetry دارای پاسپورت نمبر H7640276 کارمند خارجی کمپنی رید انترنشنل آی ان سی مفقود گردیده اعتبا رندارد.5148

* * * * * * * *

یک قطعه کارت جواز کار آقای SangamThapa دارای پاسپورت نمبر J4837347 کارمند خارجی کمپنی رید انترنشنل آی ان سی مفقود گردیده اعتبا رندارد.5151

* * * * * * * *

یک قطعه کارت جواز کار آقای RoshanRoshan دارای پاسپورت نمبر J6667328 کارمند خارجی کمپنی رید انترنشنل آی ان سی مفقود گردیده اعتبا رندارد.5152

* * * * * * * *

اوراق دعوی حقوقی حمیدخان ولد عظیم گل و غیره علیه هریک حاجی خان حاجی موسی ولدان جنت گل ترخیل مولوی تره خیل و شاوزیر ولدان جنت گل رحیم گل تره خیل تحت بررسی این دیوان قرار دارد در ارتباط موضوع نسبتی فوق مدعی علیه طی جلب های سه گانه از طریق قوماندانی محترم امنیه ولسوالی ده سبز ولایت کابل تحت جلب قرار گرفته ولی بانهم مدعی علیهما مذکوران حاضر این دیوان نگردید

به اطلاع اسامیان حاجی خان حاجی موسی جنت گل مولوی تره خیل وشاوزیر ولدان جنت گل رحیم گل تره خیل مسکونین قریه تره خیل مربوط ولسوالی ده سبز ولایت کابل رسانیده میشود اگر از تاریخ نشر اعلان الی پانزده یوم غرض حل وفصل دوسیه نسبتی شان بریاست دیوان مدنی محکمه استیناف ولایت کابل حاضر نگردد فیصله شرعی صادر گردیده حق شکایت را ندارد.۵۱۵۴

* * * * * * * *

ریاست محکمه ابتداییه تجارتی الف ولایت کابل به مسع اسامی فرشته مدعی علیه مذکور باشنده ناحیه ۱۱ شهر کابل تحت ادعای اسامی حاجی فضل مدعی مذکور در مورد مطالبه پول دراین محکمه قرار دارد میرساند که هرگاه نامبرده الی مدت ۲ ماه غرض تعقیب دوسیه نسبتی اش به این محکمه حاضر نگردد درغیاب شان تصمیم اتخاذ گردیده حق شکایت را ندارد.۵۱۳۹

هیواد
یکشنبه د لړم ۱۸مه ۱۳۹۹ ل کال ● د ربیع الاول ۲۲مه ۱۴۴۲ ق ● د نومبر ۸مه ۲۰۲۰ کال ● خصوصي گڼه ۱۷۷ ● پرله‌پسې ۴۹۶۳مه گڼه

یکشنبه د لړم ۱۸مه ۱۳۹۹ل کال ● د ربیع الاول ۲۲مه ۱۴۴۲ق ● د نومبر ۸مه ۲۰۲۰ کال ● خصوصي ګڼه ۱۷۷ ● پرله پسې ۳۹۶۴مه ګڼه

# راځئ لږ حقایقو ته سترګې نیټې کړو!

اکثره پښتانه لور رحمت نه، بلکې خپل بانکي حساب ګني. یعنې کې لویه شي،نو شل لکه ولور به پرې اخلي. دا هم دود دی چې په جنوبي ولایتونو کې د کوم پښتون لور زیږیدلې وي د لور پلار بیا ځانته فیلډر موټر اخلي.برعکس زوم وال یا خُسرګنۍ شل لکه ولور د خپل زوی د خوښۍ لپاره نه ادا کوي بلکې د دې لپاره یې ادا کوي چې ناوې دې نارینه اولاد راوړي، چې تربورانو ته کم رانه شي او تربورولي یې پاللې وي. دا یې بله فاجعه!په دې ټبر کې پر لور زده کړې کول شرم دی، پیغور دی په ټوله کې نامشروع ګڼل شي. دوی له بنګله دېش او پنجاب نه دي راغلي،بلکې همدوی د همغه غیرتي پښتنو لورګانې دي. کوم چا چې د لور زده کړې یې شرم او پیغورګاڼه.پرمختګ او ثبات د ملت له وجود ارتقا کوي، کله چې نیم ملت زده کړې شرم، فحاشي او پیغور ګڼي نو د دې وطن راتلوونکی بدتر وګڼئ.پاتې نیم ملت د ۵۰ سلنه نالوستي ملت بدبختۍ پرې کوي او د دوی له امله لوستی قشر هم د بدبختیو په اوج کې واقع کېږي.دغه پلار او لور یې ښکاره بېلګه ده، دغه شهیده نجلۍ د کابل پوهنتون په مرګوني پېښه کې په شهادت ورسېده، د





کېږي. بیا چې کله دغه نجلۍ ودېږي، خپله بېچاره نالوستې وي د افغانستان په دې شرایطو کې اکثریت ځوانان د دې بدرنګې جګړې ښکار شوي.نالوستې مېرمنې پرته له ډوډۍ پخولو، سپیاکې په دېوال وهلو، د کور کارونه نور هېڅ نه شي کولای، مجبوره ده چې خپلو یتیمو بچیانو ته چې له هر ځای کېږي خوراک څښاک پیدا کړي. بالاخره دې ته اړه شي چې خیرات ټول کړي، په ټولنه کې لاس اوږود کړي،چې د اولادونو لپاره د خوراک او څښاک لپاره څه راونیسي، د ښار واټونو ته ووځي وروسته بیا په اخلاقي فساد هم اخته شي.تاسې بازارونو ته ولاړ شئ، نظر واچوئ ډېرې مېرمنې به مو تر سترګو حبیب الله افشار لور حنیفه افشار نومېده، ویې ګورئ دوی د نالوستي ملت د جهل قیمت پرې کړ.پلار ته یې ښه ځیر شئ بېچاره داسې برېښي لکه کوم رستورانټ کې چې ګارسون وي، پښتون خو دا هم شرم ګڼي. په هر صورت، ډاډه یم دغه شهزاده پلار به خپل حق ادا کړی وي. دا چې د نالوستو په غېږه کې ژوند کوي ارومرو به دغسې غمیزې پېښې ګوري او جبرانوي به یې؛خدای مکړه که پلار یې مړ وای،نو لور یې دا ځواک په ځان کې درلود، چې خپله کورنۍ له ځانه بسیا کړي.خدای تعالی دې د شهیدې حنیفې روح ښاده لري، جنت یې ځای شه، ګور یې رڼا شه!

عبید افغان

# افغان مېرمنې د امریکا له راتلونکي ولسمشره څه غوښتنې لري؟

د امریکا له ټاکنو یوه ورځ وروسته یو شمېر افغان مېرمنې د امریکا له راتلونکي ولسمشره غواړي چې په افغانستان کې د ریښتینې ډیموکراسۍ د تحقق په برخه کې له دوی څخه ملاتړ وکړي.د ښځو د حقونو دغه فعالانې وايي چې په اوسنیو شرایطو کې چې د سولې امریکا حکومت تل له افغان ښځو سره د هغوی د سیاسي او ټولنیز وضعیت د ښه‌والي په برخه کې مرستې کړې او اوس د دې وخت رارسېدلی چې له نارینه وو سره مساوي حقونو ته د رسېدو لپاره د سولې په پروسه کې هم له افغان ښځو څخه ملاتړ وکړي.اغلې



خبرې هم رواني دي امریکا باید د افغان مېرمنو ترڅنګ ودرېږي او په حکومتي جوړښتونو کې د ښځو او نارینه‌وو تر مساوي ګډونه پورې ترې ملاتړ وکړي.دغه فعالانې همداشان وايي چې افغان مېرمنو خپلو حقونو ته د رسېدو لپاره په وروستیو کابو دوو لسیزو کې زیاتې قربانۍ ورکړې او دا باید له پامه ونه غورځول شي.حقوقپوهه کلثوم صدیقي وايي: ((د ښځو سیاسي، ټولنیزې، فرهنګي او مدني لاسته راوړنې چې په تېرو دوو لسیزو کې د نړیوالې ټولنې او امریکا په همکارۍ ترلاسه شوې او زموږ غوښتنه دا ده چې د دغو لاسته راوړنو د ساتنې لپاره د افغانستان د ښځو ترڅنګ ودرېږي او افغان مېرمنې یواځې پرېنږدي ترڅو شل کاله وړاندې تیارو ته بیا لاړې نه شو.))د هرات د ولایتي شورا غړې سکینه حسیني وايي چې د حسیني دغه راز وویل چې د امریکا راتلونکي ولسمشر باید د ښځو اړوند پراختیايي پروژو په بودجه کې کموالی نه،بلکې زیاتوالی راولي.هغې زیاته کړه: ((د افغانستان د انتخاباتو پر مهال خو ورته د ښځو مسئله ډېره مهمه نه وه، اوس ته لړو چې د سولې په خبرو کې د ښځو حقونه او همداشان زموږ رسنۍ او بشري او مدني حقوق باید د سرې کرښې په توګه وي او موږ بیا د ښوونځیو او مدرسو د تړل کېدو شاهدان نه شو.))دغه فعالانې اندېښنه لري چې افغان مېرمنې له دې په ویره کې دي چې د افغانستان په اړه د امریکا په سیاستونو کې په احتمالي بدلون سره به یو ځل بیا په افغانستان جګړه زیاته شي او افغان ښځې به د دغو جګړو اصلي قربانیانې شي.دا په داسې حال کې ده چې تراوسه د امریکا د جمهوري ریاست انتخاباتو وروستي نتایج نه دي څرګند شوي.

## حسینه ساپۍ:
# د ښځو اقتصادي ځواکمني زموږ کاري لومړیتوب دی

د ښځو چارو وزارت د سرپرستې حسینې ساپۍ په مشرۍ د زردوزۍ موسسې د فعالیتونو د وړاندې کولو په پار غونډه جوړه شوه، په دې غونډه کې د زردوزۍ موسسې د پروګرامونو رییسې حسینې ایماق د دغې موسسې د فعالیتونو په اړه خبرې وکړې او ویې ویل : د دغې موسسې په هلوځلو سره به وکولای شوو د ښځو د ځواکمني کولو په برخه کې څه د پاسه اته زره ښځې په کابل، بلخ، هرات او ننګرهار کې له خدمتونو برخمنې شي. وروسته د ښځو چارو د وزارت سرپرستې حسینې ساپۍ د زردوزۍ موسسې د فعالیتونو په ستاینې سره وویل: د ترلاسه شویو پایلو له مخې د ښځو د اقتصادي اوکلیوالي حالته د ښځو چارو وزارت د څېړنو پربنسټ د دغه وزارت یوکاري لومړیتوب په راتلونکې کې د ښځو اقتصادي ځواکمني کول دي،چې په همدې سبب د اقتصادي ځواکمني کولو معیینیت د دغه وزارت د تشکیل په چوکاټ کې جوړ شو. حسینې ساپۍ دغه راز ټینګار وکړ: د ښځو د اقتصادي حالت د لوړولو هدف د ښځو چارو وزارت او مرستندویو موسسو له لارې یو دی. له همدې امله د لا زیاتوکارونو د اغېزمنتوب لپاره لازمه ده،چې د یو اوبل په همغږۍ اوهمکارۍ د ښځو د ژوندانه د ښه والي لپاره په ګډه کار وشي .وروسته په ولسي جرګه کې د خلکو استازې شینکۍ کروخیل د زردوزی موسسې



پروګرامونه د هېواد په کچه د کورنیو د نښلولو ټکی وباله او د دغې موسسې له مسوولینو یې وغوښتل چې د ولایتونو په کچه د کلاسیکې زردوزی د ودې او احیا کولو په برخه کې هلې ځلې وکړي .د غونډې په پای کې د زردوزی موسسې مسوولینو، حسینې ساپۍ او د ښځو چارو وزارت یو شمېر ښځینه کارکوونکو ته د غوره خدمتونو په خاطر تندیس او ستاینلیکونه ورکړل شول.

باختر

# چارواکي : په کندهار کې ۸۸ طالبان وژل شوي

د کندهار ځایي چارواکي وايي، چې ګډو ځواکونو ددې ولایت په بېلابېلو ولسوالیو کې له ۱۰۰ زیاتو طالبانو ته مرګ ژوبله اړولې ده.د کندهار د نظامي شورا له لوري په خپره شوې اعلامیه کې راغلي، چې افغان امنیتي او دفاعي ځواکونو د هوایي ځواکونو په ملاتړ عملیات کړي دي.د اعلامیې د معلوماتو له مخې، ګډو ځواکونو په ارغنداب، میوند، پنجوایي، ژړۍ او یو شمېر نورو ولسوالیو کې چاڼیز عملیات کړي، چې پر مهال یې ۸۸ طالبان وژل شوي او ۲۲ نور ټپیان شوي دي.سرچینه زیاتوي، په دغو عملیاتو کې د طالبانو ۱۷ میله بېلا بېل ډوله وسلې هم له منځه وړل شوي او افغان ځواکونو ته پکې کوم زیان نه دي اوښتی.د کندهار په ارغنداب ولسوالۍ کې له تېرو څو ورځو راپه دې خوا د افغان ځواکونو او طالبانو تر منځ جګړه روانه ده. راپوروونه وايي: د جګړو له امله څه باندې ۱۵ سوه کورنۍ نورو سیمو ته کډه شوي دي.



(c) ketabton.com: The Digital Library


# Hewad Daily

یکشنبه د ۱۳۹۹ل د لړم۱۸ مه دربیع الاول۲۲مه د 8/11/2020

۱ ډالر ۷۶.۸۸ افغانی | ۱۰۰۰ هندی روپی ۱۰۴۰ افغانی | ۱۰۰۰تومان ۲/۹۰ افغانی | ۱۰۰۰ پاکستانی روپی ۴۶۰ افغانی

د دولتي ورځپاڼو رييس : فريد احمد فرهنګ-۰۷۰۴۰۰۸۰۸۰
مشر مسوول: احمد زلمی شهباز -۰۷۰۰۰۷۸۵۷۸
مسوول سکرتر : شېرمحمد نظري ۰۷۸۸۵۰۳۳۷۱
کتونکې ډله: شاولي قرار، سيديوسف شريفي، رفيع الله رووفي،محمد يونس مايار، مير مسجدی عزيزی
ډيزاين: مايار
د ورځپاڼو د وېش څانګه: ۰۷۰۸۲٤٥٦۰۰
برېښناليك : hewad1948@gmail.com
د دولتي ورځپاڼو ويبسايت: www.dailies.gov.af
www.facebook.com/Hewad1948


## ملـــي امنيت ځواکونو په جلال آباد کې د داعـــش ډلې د مطبوعاتي رهبری غړی وژلی



د ننګرهار ولايتي چارواکي وايي ،چې د ملي امنيت ځانګړو ځواکونوږمه شـپه د جلا آباد ښـار څلورمې ناحيــې اړوند، بېز اکمالاتي سـيمه کې ځانګــړې عمليات کړي.د والي وياند عطاالله خوږياڼي وايي، چې د دې عملياتو پرمهال، د اسـد څلاند مشهور په فاتح کاروان په نامه د داعش ډلــې سرګروپ وژل شــوی دی.خوږياڼي زياتوي، چې وژل شــوي کس د داعش وسـله والې ډلې د مطبوعاتو د رهــبری غړی هم وو.خوږياڼي زياتوي دغه راز نوموړي به د دولتي اشـخاصو په نښه کولو، ترور کولو او د پلانګــذاری په برخه کې هــم د داعش ډلې مشري کوله.د نوموړي په خــبره په ياد عمليـاتــو کې عامو خلکو او افغان ځانګــړو ځواکونو ته کوم زيان نه دی اوښتی.

## پامپيو: د ظريفې غفاري د پلار قاتلان دې ونيول شـــي




د امريــکا د بهرنيــو چارو وزير مايــک پامپيو د ميدان وردګو د ښــاروالې، ظريفه غفاري د پلار عبدالواســع غفاري په وژل کېدو ژور خپګان ښودلی او ويـــلي يې دي، چې د دغې پيښــې د عاملينو پــه نيولو کې بايد د هېڅ ډول هڅــې څخه دريغ ونه شي.د امريــکا د بهرنيو چارو وزارت د اعلاميې په خپرولو سره د ښــاغلي پامپيو له خولې ليــکلي: ((له کومې ورځې مې چې ظريفه غفاري ته د شــجاع مېرمنې نړيواله جايزه ورکړې، هغه له دوو تروريســتي بريدونو روغه وتلې ده.))ښــاغلي پامپيو ويــلي ،چې د امريکا متحــده ايالتونــه به لــه مېرمن غفاري او د افغانســتان لــه خلکو سره تل همکار پاتې شي.عبدالواســع غفاري د عقرب ١٦ په کابل کې د نامعلومو کسانو له خوا ترور شو.د افغانستان جمهوري رياست هم دغه جنايت يو نه بخښونکې عمل بللې او په دغه اړه يې د هر اړخيزه تحقيقاتو غوښتنه کړې ده.د راپورونو په اســاس، ښــاغلي غفاري د افغانستان په ځانګړو ځواکونو کې دنده درلوده.

## جان ډېدرېک: له افغان ځواکونو سره په ګډه هوايي بريدونه زياتوو

په هېواد کې د جګړو له زياتوالي سره په افغانستان کــې د امنيت لېږد ګډه قومانــداني وايي، چې له افغــان ځواکونو سره ګډ هوايــي بريدونه زياتيږي. جان ډېدرېک وايي، چې امريکا له افغان ځواکونو سره خپلو مرســتو ته دوام ورکــوي او د طالبانو له لــوري د تاوتريخوالي لوړه کچه ددې لامل شــوې ، چــې امريکايــي ځواکونــه په هوايــي بريدونو او دغــه راز نورو عملياتو کې لــه افغان ځواکونو سره همکاري وکړي.نوموړی وايي: په افغانســتان کې د خپلو ځواکونو مسوولانه کمولو ته دوام ورکوو. ډېدرېــک وايــي، چــې امريــکا يــوازې پــه روان ميــلادي کال کــې لــه افغانســتان سره د شــپږ ســوه ميليون ډالرو په ارزښــت د جګړېزو وســايلو مرسته کړې ده




## د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت مشرتابه د خواشينی پيغام



د ځــوان خبريال او وياند يما ســياوش پر وژل کېــدو د اطلاعاتو او فرهنــګ وزارت مشرتابه د خواشــينی پيغام !په ډېرې خواشينی مو خبر ترلاســه کړ چې د هېــواد ځوان خبريــال او د تلوېزيوني خپرونو تکړه وياند يما سياوش پرون پــه کابل کې پــه چاودنه کې ژونــد بايلود.يما ســياوش ځوان، هڅاند او نوښــتګر خبريال او د تلوېزيوني ســياسي خپرونو تکړه چلوونکي و. په لږ وخــت کې يې پرمختګ وکړ او د هېواد د رسنيو په کورنی کې يې نوم او شهرت وموند.
د اطلاعاتــو او فرهنــګ وزارت رهــبري پــر يما سياوش ترهګريز بريد په کلکو ټکو غندي او پر عاملانو يې لعنت وايي، ده ته د فردوس جنت، کورنی، دوســتانو او د هېــواد ټولو خبريالانو او رسنيو ته د زغم او صبر هيله کوي.

## بهرنيلنډخبرونه

### د امريکا په انتخابات کې د جو بايډن بری يقيني ښکاري




د امريکا د ولســمشری د انتخاباتو د رايو شمېرل لا هم دوام لري او پر له پســې د جوبايډن د رايو شمېر په ډېرېدو دي.په دې وروســتيو شــېبو کې ټرمپ تر ټولو په مهم پاتې ايالت پينســلوانيا کې هم وړاندې شــو. دا ايالت ۲۰ اليکــترول رايې لــري. بايډن په جورجيا ايالت کې هم تر خپل ســيال ډونالډ ټرمپ وړانــدې دی.جورجيا ١٦ کالج اليکترول رايې لري. کــه پــه دې دوو ايالتونو کــې د بايډن بــری يقيني شي د ده اليکترول رايې ۲۸۹ ته رســېږي. حال دا چې د بري لپــاره ۲۷۰ رايو ته اړتيا لري.له بلې خوا فيســبوک ورمــه ورځ د ترمپ د پلويانــو ګروپ، چې شمېر يې زرګونو کسانو ته رسېده، ډيليټ کړ. ټوېټر د ښــاغلي ټرمپ پر دې ټوېــټ دا ټاپه وهلې چې (( ښايي منحرفوونکې معلومات ولري.))ټرمپ ويلي، په هغو ټولو ايالتونو کې محکمو ته شــکايت کوي چې سيال يې ترې زياتې رايې وړې دي.

### اروپايي ټولنې پر ١٥ بلاروسي چارواکو بنديزونه لګولي



اروپايي ټولنې پر الکســاندر لوکاشــينکو ، د هغه پر زوی او ۱۳ نــورو بــلاروسي چارواکو بنديزونه لګولي دي.دې ټولنې په خپله رســمي اعلاميه کې د يادو ١٥ کســانو نومونه يــاد کړي، چې د نــوي بنديز له مخــې به د اروپا له وېزو منــع وي او ملکيتونه به يې په اروپايــي هېوادونو کې کنګل شي.اروپايي ټولنې په اکتوبر مياشــت کې هم پــه ۴۰ لوړپوړو بلاروسي چارواکــو ،څکــه بنديزونــه ولګول ،چې پــر لاريون کوونکــو په زور زياتي او هم پــه ټاکنو کې په درغليو تورن شــوي وو.په بــلاروس کې د اګســټ په نهمه الکســاندر لوکاشينکو د ولســمشری ټاکنو ګټونکي اعلام شــو، خــو دې کار د خلکو غبرګــون وپاراوه او له هغه راهيســې پراخې مظاهرې پيل شوې.زرګونه کســان د حکومت له خوا د مظاهــرو پر مهال نيول شــوي، د اپوزيســيون ډېری مشران زندان ته اچول شوي يا له هېواده وتلو ته اړ ايستل شوي دي.

### ســنرايزرس حيدرآبــاد لوبډلــه نيمه پای لوبې ته ووتله



د هنــد د کرېکــټ پــه غــوره ليــګ کې وړمه شــپه ســنرايزرس حيدرآباد لوبډله د رويال چلنجرز بنګلور په ماتولو ســيمي فاينل ته ووتله.حيدرآباد لوبډلې د بنګلــور له خوا د ۱۳۲ منډو هدف پــه څلورو وېکټو پوره کړ.راشد خان وتوانېد، چې له شاوخوا شل متره لرې په (ترو) يا د توپ په ســيده اچولو انګلســتانی لوبغاړی معين علي رن اوټ کړ.دی تر لوبې وروسته د (ای.پي.اېــل) خپروونکــو ته وويــل : (( دا حذفي لوبــه او ګټل يې اړين و. ډېر فشــار موجود، خو موږ وګټله. مــا فکر کاوه ،چې که په ســم ځای په ثبات توپ اچونه وکړم، نو ښــه نتيجه به ترلاسه کړم. همدا يې علت دی، چې تر ټولو اقتصادي توپ اچونه مې کــړې او يو شــمېر وېکټې مې هم اخېستې.))ســن رايزرس کرېکټ لوبډله به اوس نن ماښــام له ډهلي کپټالــز سره دويمه حذفي يا نيمه پايلوبه کوي، چې ګټونکې به يې راســاً په فاينل کې د ســې شنبې په شپه له ممبې انډينز ټيم سره مخ شي.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**